**لـــوړو زده کړو وزارت**

**التقــوی د لوړو زده کړو مؤسسه**

**علمـــي چارو معاونییت**

**د څېړنیزو چارو د سمون مرکز**

# التقوی د لوړو زده کړ موسسې د څېړنیزو چارو

# د تنظیم پالیسي

**کال:** **۱۴۰۲ هـ ش**

بسم الله الرحمن الرحيم

**التقوی د لوړو زده کړو موسسې دڅېړنیزو چارو د تنظیم پالیسي**

## سریزه

پوهنتونونه، لوړو زده کړو مؤسسې، علمي او څېړنیزې ادارې دي چې د ټولنې د بیلا بیلو اړتیاوو د تامین لپاره علمي او څېړنیز خدمات وړاندې کوي. په پوهنتونونو کې د علمي کادر غړي دوه مهمې دندې لري چې یوه تدریس او بله یې څېړنې دي چې تدریس پرته له څېړنې امکان نه لري. د لوړو زده کړو وزارت د لوایحو او پالیسو له مخې او په التقوی لوړو زده کړو موسسه کې د څېړنیزو چارو د سمون، سنبالښت او انسجام او دې فرهنګ ته د ودې ورکولو په موخه د موسسې د مرکزي څېړنو مرکز بهتره وګڼله او اړ شو چې د علمي څېړنو دغه پالیسي طرحه او د علمي شورى له لورې تصویب شي.

د څېړنې له میتودونو سره د کم شیمر استادانو بلدتیا، د علمي څېړنو کولو په موخه د مالي، فزیکي او لابراتواري منابعو نه شتون او د علمي څېړنو د کمیت او کیفیت نور هغه لاملونه دي چې دا پالیسي یې د جوړیدو تر درشله رسولې ده. په ملي، منطقوي او نړیواله کچه د علمي او معیاري علمي څېړنو په وړتیا د پوهنتون سنبالښت ددې پالیسی مهم لید لورى تشکیلوي.

د دې پالیسی له مخې هڅه کیږي څو د علمي څېړنو د میتودولوژۍ د زده کړې او استادانو د څېړنیزو مهارتونو انکشاف له لارې له یوې خوا استادان خپل اکاډمیک مکلفیتونه پر ځای کړي او له بلې خوا د علمي او مسلکي څېړنو د رشد له لارې له یو بل سره په اړیکه کې اوسي څو په دې توګه د موسسې او په نهایت کې د لوړو زده کړو وزارت ستراتیژیک پلان عملي کړاى شي.

الف: **څېړنه او اهمیت یې:**

دا چې د هر علمي نهاد او په ځانګړې ډول د پوهنتون له پاره د څېړنو ترسره کول یو له حیاتي او ډېرو اړینو کړنو څخه دي، نو ویلای شو چې پرته له څېړنو د پوهنتون اصلي تعریف او مسؤلیت نیمګړی دی. له څېړنو پرته د ټولنې پرمختګ ناشونې دی. د هرې ټولنې د پرمختګ اندازه د همغه ټولنې د حقیقي او حکمي اشخاصو د څېړنو د کیفیت او کمیت له مخې کولای شو. نن ورځ د نړۍ د اکثرو پرمختللو ټولنو له پاره د اړینو څېړنو اړوند په عادي بودیجه کې ځانګړی او فوق العاده ځای او ونډه ورکول کیږي، تر څو په یادو ټولنو کې اړوند نهادونه انفرادي او ګروپي څېړنې په ملي او نړیواله کچه ترسره کړي. ستونزې معلومې، فرصتونه تشخیص او د حل اړوند یې داسې علمي څېړنې وکړي، چې په علمي بنه لاسته راوړنې ولري. یادې چارې ترسره کول پرته له شکه د همغه ټولنې پرمختګ او نورو له پاره د آسانتیا باعث ګرځي.

**ب: فعلي وضعیت:**

د هرې ټولنې د رشد او پرمختګ لپاره امنیت، سوله او ثبات یو اساسي شرط دی خو له بده مرغه په افغانستان کې لسګونه کلونو جګړې هرې برخې ته د ستر زیان اړولو تر څنګ په علمي او څېړنیز بهیر هم اغیز غورځولی دی. د کلونو جګړو د ورانیو او بدبختیو د جبران په موخه په تیرو څو کلونو کې ښه فرصتونه رامینځته شوي دي. د استادانو د ظرفیت لوړولو، زیربناوو احیا او انکشاف، د علمي څېړنو رشد او انکشاف، د تعلیمي نصاب نوي ارزونې او تجدید او پوهنتونی انکشاف په برخه کې ډیر کارونه تر سره شوي دي چې لا تر اوسه بسنه نه کوي.

**التقوی د لوړو زده کړو موسسې دڅېړنیزو چارو د تنظیم پالیسي**

**1. د ضعف نقطې**

د علمي څېړنو کولو او د هغوی له میتودونو سره د ډېرو استادانو نا بلدتیا، د لابراتواري اسانتیاوو کمښت، په ځینو تحصیلي موسساتو کې د علمي منابعو نه شتون یا کمښت، له علمی څېړنو سره د یو شمیر استادانو نه یا کمه لیوالتیا او په عادي بودیجه کې د علمي څېړنو لپاره د کافي بودیجې نه شتون د علمي څېړنیزو پروژو د پرمختک په مقابل کې ستر خنډونه او د ضعف نقطې ګڼل کیږي.

په همدې ډول د پوهنتونونو تر مینځ د علمي او مسلکي اړیکو کم رنګي، په علمي ساحو کې له علمي څېړنو څخه د ترلاسه شویو پایلو څخه نه ګټه اخستنه او په نهایت کې د خپلو کمیو او کاستیو د رفع په موخه د علمي څېړنو څخه د استفادې له ارزښت څخه نا خبري په دې برخه کې نور ستر خنډونه ګڼل کیږي.

**2. د قوت نقطې**

اوسمهال په یو شمیر پوهنتونونو کې د علمي څېړنو په برخه کې د مجربو استادانو، د لوړو تحصیلي درجو لرونکو استادانو شتون، د علمي څېړنو د مرکزونو لپاره د زیر بناوو شتون او معلوماتي ټکنالوژی ته د خلکو اسانه لاسرسی د علمي څېړنو په ډګر کې د قوت نقطې ګڼل کیږي.

په التقوی لوړو زده کړو موسسه کې د علمي څېړنو د انسجام د مرکز شتون او دې برخې ته د جلا بودیجې ځانګړې کول به استادانو ته دا فرصت ورکړي څو د علمي څېړنو په ډګر کې له شته امکاناتو څخه اعظمي ګټه پورته کړي او په نهایت کې د ټولنې د څېړنیزو اړتیاوو د پوره کولو لپاره کار وکړي.

**ج: د علمي څېړنو پالیسی لرلید (Vision)**

د التقوی د لوړو زده کړو موسسې د علمي څېړنې پالیسی له مخې به مسلکي کادري غړي د شته عصري سهولتونو په مټ د اقتصاد، حقوق او سیاسي علومو په برخه کې اړینې علمي څېړنې وکړي.

**د: د علمي څېړنو پالیسی ماموریت (Mission)**

**لومړی: په موسسه کې د علمي څېړنو تقویه او پراختیا:**

د علمي څېړنو په ډګر کې د علمي کادر غړو د مهارتونو او پوهې لوړوالي یوه اساسي نقطه ګڼل کیږي، په همدې موخه په التقوي لوړو زده کړو موسسه کې د علمي څېړنو د انسجام مرکز وظیفه لري چې په اړونده پوهنځیو کې د څېړنې تګلارې، د مقالو د ترتیب روش، احصائیه، نمونه اخستل، د ارقامو راټولول، د څېړنې د راپور تهیه او د هغې وړاندې کولو او نورو اړونده برخو کې د مشخصو برنامو د تدویر او تدوین په برخه کې کار وکړي.

**دویم: د علمي کارد غړو لپاره د علمي څېړنو په برخه کې د امکاناتو او اسانتیاوو بر ابرول.**

د پورته هدف د تر لاسه کولو لپاره به لاندې موارد عملي کړل شي:

۱. په لومړي قدم کې یو شمیر استادانو ته د علمي څېړنو د تګلارې په برخه کې روزنه ورکول، څو هغوی ددې جوګه شي چې نورو ته د علمي څېړنو روزنه ورکړي.

۲. په دویم قدم کې به روزل شوي استادان د علمي څېړنو د ترسره کولو په موخه د څېړنیزې تګلارې، ورکشاپونه او سمینارونه په لار واچوي او هغه استادان چې روزل شوي دوې به نورو استادانو ته روزنه ورکوي.

**دریم: عوایید تر لاسه کول:**

لکه څرنګه چې د علمي کادر غړي د تدریس تر څنګ د څېړنې دنده هم لري او علمي څېړنې یواځې د علمي ترفیعاتو لپاره نه وي بلکه کولی شي له دولتي او خصوصي سکتور لپاره علمي څېړنې تر سره کړي او د هغه له درکه عواید تر لاسه کړي او له دې درکه تر لاسه شوې حق الزحمه به هم د علمي کارد غړو د عوایدو د زیاتوالي او هم د پوهنتون لپاره یوه اضافه عایداتي سرچینه جوړه شي.

**څلورم: له ترسره شویو علمي څېړنو څخه لاس ته راغلي نتایجو څخه د ګټې اخستنې اسانتیا رامینځته کول:**

ددې هدف لپاره به د موسسې د علمي څېړنو د انسجام مرکز د اړونده پوهنځیو له علمي څېړنیزو کمیټو سره ګډ کار وکړي او اړیکه به وسره ټینګه کړي. د علمي څېړنو نتایج به په ویب سایټ، علمي مجلو، علمي او مسلکي کنفرانسونو د تدویر له لارې له اړونده ادارو سره شریک کړي.

**پنځم: د موسسې د علمي کادرغړو او موسسې د اړونده ادارو تر مینځ د مسلکي علمي اړیکو تامین:**

په دې موخه به د کنفرانسونو او ورکشاپونو په واسطه د پوهنځیو د علمي څېړنو کمیټې د تجاربو او نظریاتو د تبادلې له لارې د پوهنځیو تر مینځ او د هم د موسسې د علمي څېړنو د مرکز تر مینځ مسلکي اړیکې رامینځته کړي.

**شپږم: په مختلفو برخو کې د ټولنې د پرمختګ، انکشاف او ارامتیا په موخه د علمي څېړنو تګلوری مشخصول:**

په پوهنتون کې د علمي څېړنو کول په مختلفو ټولنیزو، اقتصادي، سیاسي او نورو برخو کې د پوهې د پرمختګ سبب وګرځي او له دې پرمختګ څخه به نیغ په نیغه ټولنه اغیزمنه کیږي.

**ه: متوقع پایلې**

1) د ګټورو علمي څېړنو په کولو او نشر سره به محترم استادان، محصلان او اړونده علاقمندان معتبرو علمي موادو ته لاسرسی پیدا کړي.

2) د علمي څېړنو په پایله کې به د هېواد او سیمې سیاسي، اقتصادي، ټولنیزې، فرهنګي او نورې ستونزې تشخیص او د حل یوه مناسبه لاره به ورته وړاندیز شي.

3) د څېړنو د ترسره کیدو څخه د مالي سرچینو لاسته راوړلو له امله د التقوی د لوړو زده کړو موسسې په عایداتو کې زیاتوالی.

**التقوی د لوړو زده کړو موسسې دڅېړنیزو چارو د تنظیم پالیسي**

## لومړی فصل

## عمومي احکام

**لومړی ماده: مبنی:**

د ملکي لوړو زده کړو قانون د (۱۱) مادې د (۵،۷ او ۱۲) اجزاو د حکمونو په اساس د التقوی د لوړو زده کړو موسسې لپاره د څېړنیزو چارو د تنظیم پالیسی تدوین شوې ده.

**دویمه ماده: موخې:**

ددې پالیسۍ موخې عبارت دي له:

1) د ټولنې د هغو ستونزو حل کول چې هره ورځ د معاصرې ټکنالوژۍ او یا نورو عواملو له امله ورسره مخ کېږو.
2) له ملي، سیمه یزو او نړیوالو معیارونو سره په برابرو څېړنیزو مهارتونو د علمي کادري غړو سنبالښت په داسې توګه چې هدف لرونکي او د هیواد له اړتیا سره سمې څېړنې وکړي.
3) د علمي څېړنو د ترسره کولو په موخه استادانو او محصلینو معنوي او مادي ملاتړ او د لازمو اسانتیاوو برابرول.
4) د ټولنې د اقتصادي، علمي، مسلکي او ټولنیزې پیاوړتیا په موخه له علمي څېړنو څخه د تر لاسه شویو نتایجو څخه ګټه اخستنه.
5) د علمي څېړنو له مراکزو او ټولو هغو ادارو سره چې علمي او څېړنیزې برنامې لري د قوي اړیکو او همغږۍ رامینځته کول.
6) د موسسې د ځاني بساینې په موخه د مالي منابعو تقویه او تامین.
7) د وخت او اړتیا سره سم اړین او موثر تحقیقی چاپیریال چمتو کول او په پوهنتون کې د علمي څېړنو په برخه کې استادان هڅول.

**دریمه ماده: د موسسې مکلفیتونه:**

1. د اړتیا په صورت کې موسسه څېړونکې ته د څېړنې په جریان کې ټول اړین سهولتونه برابر کړي.
2. ټول هغه مصارفات چې د څېړنې په جریان کې د څېړونکي لخوا ترسره شوي دي د مؤسسې د څېړنیز مرکز له لوري د شواهد او مدارک له طی مراحلو وروسته د مالي او اداري چارو معاونیت لخوا اړونده استاد ته سپارل کیږي.
3. په ملي او نړیوالو ژونالونو کې د استادانو لخوا د ترسره شوي څېړنو د چاپ مصارفو تادیه د موسسې مکلفیت دی.
4. د التقوی په ملي مجله یا نورو ملي مجلو کې د علمي او څېړنیزو مقالو په موخه د ترسره کیدونکې څېړنې د څېړنې د بشپړیدو څخه وروسته څېړونکي استاد ته( ۵۰۰۰ ) پنځه زره افغانی په نقدي ډول تادیه کوي.
5. په نړیوالو ژورنالونو کې د علمي او څېړنیزو مقالو په موخه د ترسره کیدونکې څېړنې د څېړنې د ټولو مراحلو د بشپړیدا وروسته څېړونکي استاد ته( ۱۰۰۰۰ ) لس زره افغانی په نقدي ډول تادیه کوي.
6. چې د علمي او څېړنیزو چارو د سرعت په موخه اداره خپل ټولو مسؤلیتونه په ټاکلي وخت ترسره کوي.

**خلورمه ماده: د څېړونکي استاد مکلفیتونه:**

1. څیړونکی مکلف دی د علمي څیړنې پالسی سره سم خپله څیړنه پیل کړي.
2. په هره میاشت کې باید څیړونکی د اړوند پوهنځې علمي څیړنو کمیټې ته د څیړنې راپور وړاندي کړي.
3. که چیرته څیړونکی د څیړنې په جریان کې د ستونزو سره مخ کیږي یا دا چې وړاندیزونه ولري، نو باید د پوهنځي د علمي څیړنو کمیټې سره یې شریک کړي.
4. څېړونکي استاد مکلفیت لري چې خپل څېړنه د التقوی د لوړو زده کړو مؤسسې د استاد تر عنوان لاندې نشر کړي.
5. د څیړنې د بشپړیدو څخه وروسته څیروونکې باید خپله ترشوې څیړنه د اړونده پوهنځي د څیړنو کمیټې او یا د څېړنیز چارو د سمون مرکز له طریق اړونده خواوو سره شریکه کړي.
6. هر استاد مکلفیت لري چې د خپل مسلک او تخصص په ساحه کې حداقل دوه څېړنې ترسره کړي.

## دویم فصل

## د څېړنو د سمون مرکز او پوهنځیو د څېړنو کمیټو دندي او مسؤلیتونه

**پنځمه ماده : د موسسې د علمي څیړنو د انسجام مرکز دندي او مسؤلیتونه:**

**(۱) دندې موخه:** د موسسې په کچه د علمي څېړنیزو چارو تنظیم،دودول، معیاري کول او د ټولنې د پرمختګ په موخه په څېړنیزو فعالیتونو کې مؤثریت او مثمریت رامنځ ته کول.

**(۲) دندې او مسؤلیتونه:**

1. د څېړنیز مرکز د چارو د ښه تنظیم په موخه عملیاتي، انکشافي او څېړنیزو پلانونو ترتیبول.
2. د څېړنیزو چارو د بهبود او معیاري کیدو په موخه د لوړو زده کړو وزارت تقنیني استاد او د مؤسسې د داخلي پالیسو او طرزالعملونو تطبیقول او څارنه.
3. د موسسې په کچه د څیړنې د فرهنګ دودول او څیړنیزو فعالیتونو کې د استادانو او محصلینو دخلیول.
4. د پوهنځیو د علمي څیړنو کمیټو څخه د راغلي څېړنو او د څېړنیزو پروژو ارزول او تدقیقول.
5. د د مسلکي پرمختیا مرکز سره په ګډه د علمي څیړنو د وضعیت د بهبود په موخه د علمي کادر دغړو د ظرفیت لوړوالي لپاره په ملي او نړیواله کچه د لنډ مهاله پروګرامونو ( سیمینارونه، ورکشاپونه او کنفرانسونه) برابرول.
6. د علمي کادر غړو لخوا په حادو او نویو سیاسي، حقوقي، ټولنیزو، اقتصادي، مدیریتي او دیني ترسره شوې څېړنو باندې علمي کنفرانسونو دایرول.
7. د علمي کادر غړو د انفرادي څېړنو او ګډو څېړنیزو پروژو د ترسره وای لپاره د امکاناتو او وسایلو د برابرولو په برخه کې لازم اجرا ات ترسره کول.
8. د مؤسسې په سطحه د ټولو علمي کادر غړو او بهر څخه راغلي څېړنو ارزونه ترسره کول.
9. اړونده مراجعو سره د مؤسسې د ټولو علمي کادر غړو د ترسره شوې څېړنو پایلې شریکول.
10. د اړونده مراجعو او ټولنې څخه ترسره شوې نیاز سنجی د تحلیل په اساس د څېړنیزو موضوعاتو د ټاکلو لپاره لازم اقدامات ترسره کول.

**التقوی د لوړو زده کړو موسسې دڅېړنیزو چارو د تنظیم پالیسي**

11. د علمي څېړنو د سمون مرکز د ټولو چارو څخه څارنه او نظارت ترسره کول.
12. د بیروني مراجعو څخه د څېړنې پورې مربوطې پروژو د ترلاسه کولو او پلي کولو په برخه کې لازم اقدمات ترسره کول.
13. په ملي او نړیواله کچه د استادانو او محصلینو د علمي څیړنو د خپرولو لپاره امکاناتو او اسانتیاوې برابروول.
14. د کال د پیاوړو او برجسته څېړنو د تشخیص او د ستاینې لپاره یې د ځانګړو پروګرامونو جوړول.
15. د پوهنځیو د علمي څېړنو د کمیټو له فعالیتونو څخه څارنه کول.
16. کمیټې د کړنو څخه د موسسې علمي شورا او علمي معاونیت ته میاشتنې او کلنې راپورونو وړاندې کول.
17. د مؤسسې په کچه د څېړنو او څېړنیزو چارو د ښه تنظیم او هماهنګۍ په موخه میاشتۍ عادي او ضرورت په وخت کې فوق العاده مجالس دایرول.
18. د التقوی د ملي او نړیوالو علمي او څېړنیزو مجلو د چارو او فعالیتونو تنظیمول.
19. په میاشنې، ربعوار او کلنې ډول د علمي څېړنو د سمون د مرکز د ترسره شوې فعالیتونو څخه علمي چارو معاونت ته راپور ورکول.
20. نورې هغه دندې چې د تقنیني اسنادو ذکر او یا هم د مافوق آمر لخوا سپارل کیږي.

**شپږمه ماده: د پوهنځیو د علمي څیړنو د کمیټو دندې او مسؤلیتونه:**

1) د کمیټې د چارو د ښه تنظیم په موخه عملیاتي، انکشافي او څېړنیزو پلانونو ترتیبول.
2) د موسسې د علمي څیړنو د انسجام مرکز سره د علمي څیړنو په ترسره کولو مرسته او همکاري.
3) د څیړنیزو کاري پلانونو په طرحه کولو کې د علمي څیړنو مرکز سره د نظریاتو او مشورو شریکول.
4) د استادانو لخوا د ترسره کیدونکي څېړنو او د څیړنیزو پروژو ، پلانونو او طرحو ارزول او تدقیقول.
5) د هیواد، سیمې او نړۍ د حادو مسایلو په تړاو د علمي- څیړنیزو کنفرانسونو دایرول.
6) د نورو ادارو د علمي څیړنیزو مراکزو په کنفرانسونو او ورکشاپونو کې ګډون.
7) په میاشت کې حد اقل یو ځل د کمیټو د ناستو دایرول او هغې ته د کاري پلان طرحه کول.
8) د پوهنځیو په کچه د پیاوړو او برجسته علمي آثارو وړاندیز د علمي څیړنو د انسجام مرکز ته څو د تقدیر لپاره آماده کړای شي.
9) د علمي مجلې په برخه کې د موسسې له اړوندو ادارو سره همغږي او د علمي مقالو د راټولولو اسانتیا برابرول.
10) په میاشنې، ربعوار او کلنې ډول د ترسره شوې فعالیتونو څخه اړونده برخو ته راپور ورکول.
11) د نورو هغو مرتبطو چارو ترسره کول چې ذیصلاح مراجعو لخوا ورته سپارل کیږي.

**التقوی د لوړو زده کړو موسسې دڅېړنیزو چارو د تنظیم پالیسي**

**دریم فصل**

**د څېړنې د عناوینو او پلانونو د تائیدی پړاونه**

**اومه ماده: په دیپارتمنت کې د څېړنې د عنوان ټاکل:**

(۱) د اړونده پوهنځیو دیپارتمنتونه مکلفیت لري چې د مؤسسې د سلسله مراتبو په رعایت سره د او بهرنیو اړیکو کمیټې سره په هماهنګۍ اړونده خصوصي او دولتي اداراتو سره رسمي ناستې ترسره کړي او هغوي په مربوطه برخو کې چې کومې ستونزي په رسمي ډول یې ترلاسه کړي.

(۲) کله چې ستونزي د مربوطه اداراتو څخه دیپارتمنت ته ورسیدې نو له هغې وروسته اړونده ستونزي د څېړنې د عناوینو اړونده معیارونو سره ورته یو عنوان ټاکل کیږي او د بحث لپاره دیپارتمنت شوری ته وړاندې کیږي.

(۳) څېړنې په عنوان باندې د هر اړخیز بحث وروسته د څېړنې وړ موضوعاتو لپاره د دیپارتمنټ په کچه یو څېړنیز پلان جوړیږي او د استادانو سره په مشوري موضوعات ورته د څېړنې په موخه سپارل کیږي.

(۴) دیپارتمنت صلاحیت لري چې د څېړنې لپاره عناوین په ټولنه کې عام او خاصې ستونزي خپله درک او څېړنې عناوین ورته ترتیب کړي .

(۵) دیپارتمنت صلاحیت لري چې د څېړنې عناوین د پروژي او یا هم په انفرادي ډول خپلو علمي کادر غړو ته وسپاري.

(۶) دڅېړنې عنوان په اړه دیپارتمنت شوری د ردولو، اصلاح، تائید او تصویب صلاحیت لري.

**اتمه ماده: د څېړنیز پلانونو په اړه د پوهنځي د څېړنو کمیټو اجرا آت:**

(۱) پوهنځیو د څېړنو کمیته د دیپارتمنتونه څېړنیز پلانونونه د خپلو مجالسو په اجنډا کې شاملوي او هراړخیز بحث وروسته رد، اصلاح، تائید، توحید او تصویب په اړه یې پریکړه کوي.

(۲) که توحید شوی څېړنیز پلان تائید او تصویب شوو د بعدي اجرا آتو لپاره د پوهنځي علمي شوری ته یې وړاندې کوي.

**نهمه ماده: توحید شوی څېړنیز پلان په پوهنځي علمي شوری کې مطرح کول:**

(۱) د پوهنځي علمي شوری توحید شوی څیړنیز پلان د بحث په موخه د علمي شوری غړو ته وړاندې کوي او هغوي هم د رد، اصلاح، تائید، توحید او تصویب په اړه یې پریکړه کوي.

(۲) که توحید شوی څېړنیز پلان تائید او تصویب شوو، د بعدي اجرا اتو په موخه د مؤسسې علمي څېړنیزو چارو د سمون مرکز ته یې استوي.

**لسمه ماده: د پوهنځیو د څېړنیزو پلانونو په اړه د مؤسسې د څېړنو چارو د سمون مرکز اجرا آت:**

(۱) د مؤسسې د څېړنیزو چارو سمون مرکز د پوهنځیو څخه د راغلو څېړنیز پلانونونه د خپلو مجالسو په اجنډا کې شاملوي او هراړخیز بحث وروسته رد، اصلاح، تائید، توحید او تصویب په اړه یې پریکړه کوي.

(۲) که توحید شوی څېړنیز پلان تائید او تصویب شوو د ورستیو اجرا اتو په موخه د مؤسسې علمي شورى ته يې وراندې کوي.

**یولسمه ماده: مؤسسې په کچه د څېړنیز پلان په اړه ورستی پریکړه کول:**

(۱) د مؤسسې علمي شورى د مؤسسې د څېړنیزو چارو سمون د مرکز څخه راغلی څېړنیز پلان د شورى په اجنډا کې شاملوي او هراړخیز بحث وروسته رد، اصلاح، تائید، توحید او تصویب په اړه يې پریکړه کوي.

(۲) که توحید شوی څېړنیز پلان تائید او تصویب شوو، نوموړی پلان د تطبیق وړ دی او اړونده برخي مکلفیت لري چې لازم اجرا آت ترسره کړي.

## څلورم فصل

## د څېړنو او څېړنیزو پروژو څخه مالي ملاتړ

**دولسمه ماده: بودیجې د تخصیص کولو په برخه:**

(۱) التقوی د لوړو زده کړو مؤسسې هر کال د مؤسسې د څېړنو چارو د سمون مرکز لخوا د ترسره کیدونکي مصارف د مؤسسې د عواید ته په پام سره بودیجه تخصیصوي.

(۲) مالي او اداري چارو معاونیت مکلفیت لري چې د بودیجې په سند کې ټاکل شوي بودیجه د څېړنو چارو د سمون مرکز په واک کې ورکړي.

**دیارلسمه ماده: څېړونکو لپاره مادي او معنوي پروګرامونه بر ابرول:**

(۱) التقوی د لوړو زده کړو مؤسسه د څېړنو چارو د سمون مرکز له طریقه هرکال د مؤسسې په کچه برترې څېړنې د یو فلتر په اساس مشخصوي او د یوځانکړې برنامې له طریقه يې اعلانوي.

(۲) التقوی د لوړو زده کړو مؤسسه د دریو برترو څېړونکو ته د یوې شاندارې غونډې په ترڅ کې مادي او معنوي مکافات ورکوي.

**څوارلسمه ماده: تصویب او اجراء:**

د څېړنیزو چارو د تنظیم دغه پالیسي په (څلورو فصلونو) څوارلس مادو کې ترتیب او د مؤسسې د ۱۴۰۲ کال په (۲) ګڼه علمي شورى کې چې په ( ۱۴۰۲/۰۲/۳۱) نېټه دایره شوې د هر اړخیز بحث څخه ورسته رایو په اتفاق تصویب شوه او د اجرا وړ ګڼل کیږي.

**خوشحال جواد**

**د التقوی د لوړو زده کړو موسسې رئیس**